مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان‌الله ارینزی ۲۰۲۳/۱۲/۱۹

د وردګو د واده دود او بدلې

پنځه‌ویشتمه برخه

د داده بدلې
د کور واله وو ښځو بدلې:
دا هغه بدلې دي چې د ټنګورو د بدلو په مقابله کې د کورواله ښځو له خوا ویل کېږي. البته دا بدلې د ناوې د جوړولو او کتلو په جریان پورې اړه لري. دوی په دې بدلو کې د خپلو خیښانو بد وایي، د دوی عیبونو ته ګوتې نیسي او ځان لوړ پرې بولي:
ناوې لکه چینار ودرویه
(...) لکه سیرلی تی [1] جرویه
*

ناوې د ځوزو (2) لمبه وکړه سرسیه دې شه
زوړ خسر درته وېلاړ دی سدکه (3) دې شه
*

د موږ زومه ډولي (4) ورا دې راغله ارجایي(5)
څوك پك دي څوك پمن دي، څوك اورتي(6) خرڅوي
*

د موږه زومه راشه چې ډېنك – ډېنګ دې کړو
یو من صابون راوړه چې پې سپین دې کړو
*

خدایه د موږ بخت دې کوټه [7] کړی دی
(...) دې د بوده (8) په شان جوړ کړی دی
*

د موږه دسې ناوې که (9) ده زرین غیطان
د تاسې دسې زوم دی که خوټه د شیطان
*

د موږ زومه زولنه ته راننوزه د ننه
د موږ د ناوې رنګ ګورې لکه ونه
*

پورې خوا زرګر دی راولو به یې
د (...) پوزه کړه ده جوړ وو به یې
*

نن مې د چارګل غمی وتلی دی
د زوم پلار که جوال دسې ګنډلی دی
*

پورې په چمن کې ما ځنځیر میندلی دی
ټنګور چې (....) کش کړه ما یې ځای لیدلی دی
*

څه مې درته وې (10) چې شین غویې په چمن مه راوله
څه مې درته وې چې ده (...) ... مه راوله(11)
*

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ټنګوري چې تا سترګې تورولې
(....) په چلم ډېره یاد ولې
*

مه ژاړه ناوې نه په بند ځې نه بند یې
که ته د ژړا مړه شوې د (...) د دووسۍ
*

لوړو بلخانو ته زینه کېږدئ
(پلاني) ته په شپاله کې کته کېږدي
*

د نجونو سپرلی ورك دی په رمو کې
خېښې شرمنده شې په مېړو کې
*

تاسې په شاتوت پورې تزبې (12) ګورئ
تاسې د (....) د سر رچې (13) ګورئ
*

مرغۍ په ډنډر(14) ناسته ډنډر ښوري
(پلانۍ) شپاله ته ځې بدلې بولې
*

ټنګوري سالولا سر دي وودلی (15) دی
(...) په تامین زړه یې بایللی دی
*

چې وړه وې په جر – جر [16] یې لویولې
اوس دسې خلکو یوړې چې پشیانې یې للولې(17)
*

میرزا یې کدم (18) راواخله کلمونه (19)دي
خسرخېل درته وېلاړ سوړ (20) سرونه دي
*

په اوبو کې دوه چومجي (21) دي
د موږ ناپویه (22) زومه دواړه سترګې دي د سپې دي
*

د چه ببېه لکېه د (...) ببه لکېه
کته (23) ورکئ کله ورسه (24) ښایې ښه چېنه
*

اوښان خې کئ (25) موږ سورې کئ
د (...) په توخانه کې بوغبند (26) کېږدئ ټنګوری پکې ویده کړئ

سنځله ولې – ولې(27) چې اوبو نه وې راوړې
ټنګور مې نوره ښه ده چې شپنو نه وای...
*

اوس به سپین صابون په ګوتو کېږدو
اوس به (...) لنډۍ (28) درپرېږدو
*

د موږ ووړکیو (29) بې یکلو(30) د روازګۍ وغچوئ
(....) مې ... ده په بامو یې زغلوی
*

د موږ خېښې څه بده تیاره (31) یې
لستونۍ ښوروي د (....) یاره یې
*

واړه – واړه پټې دي پولې نه لري
(پلاني) مې پکې ریې ده سترګې نه لري

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*
زوم مې لکه لرۍ(32) ځړولی دی
پلار مې يې لکه سپی ورته تړلی دی
*
ټنګوري خيالګري ښه عصري سر دي وودلی دی
(...) ژنۍ خو تا درمخته (33) کړی دی
*
د غواوو خوشايه د مېږو زېړي پچې
ټنګور ګرده تاويږي خوشتی يې ځنې ورکې
*
د موږ ناوې چې وړئ ريمال يې راکړئ
ده تنګوري (... خان) لره نکاح کړی
*
د کلي ته شا رشکه (رشقه) ده
ټنګور مې کې پرته ده د ځوانانو پې داوه (34) ده
يا: د کلي ته شا رشکه ده رشکه څه بده خوږه ده
*
خدايه د موږ کبر زوال دی
د سلو کالو زوړ په موږ توان(35) دی
پرتوګ دی او نرګټيې(36) د لچې (37) دی
پوښ دی (...) د(38) د دروېزې دی (39)
*
خېښې سل روپۍ درپورې
(...) ته خولګی ورکړه سل به نورې کا درپورې
*
د پاسه رمه راغله رمه پاڼې ټولوي
ټنګور په رود کې ناسته ده رومونی زېږوي
*
خورې ورځه په مخ دې ښه شه
که چېرې بادوريه (40) شوه (...) دی سدکه شوه
*
د چه شمله ببره د (...) شمله ببره
يا: د چه ايره ببره د (پلاني) ايره ببره
(...) ترې لاندې ناست دی لکه وينځه مروره

د کوټې په کونج کې کټ دی ښوروو به يې
(پلانی) د کډو (41) سپی ده غپه وو به يې
*
د کيبه راغلې حورې د پاسه راغلې حورې
ټنګورې په څه راغلې د (...) پرينګې(42) لورې(43).

---

[1] تې- ترې
[2] ځوز، يو نامتو بوټی دی چې اغزي لري او اوښان يې خوري. يو متل دی چې وايي: اوښ چې درانده بارونه وړي خوراك يې ځوز دی.
[3] سدکه – صدقه
[4] ډولۍ هغه چا ته وېل کېږي چې ځان ډېر سينګاروي.
[5] ارجايي- هر جايي- ارجل- ګډوډ خلك.
[6] اورته- ماندينه- مېرمن- ښځه
[7] کوټه- قلب- تقلبي- چپه- ناچل
[8] بوده- چارپای- حيوان.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

[9] که - لکه
[10] وې - وېل
[11] د کوچیانو بدل:
څو مې درته ویل څې زېره غوا په جلگو مه راوله
څو مې درته ویل څې دا (پلانی) بېشرمه مه راوله
(کوچیانی پانگه، ص 78).
[12] تزبې - تسبیح
[13] د سپرې چوچیان
[14] ډنډر - ساقه
[15] وودل - اوبدل
[16] جر - جار
[17] للولې- حلالولې
[18] کدم- قدم
[19] کلم- قلم
[20] کدو ډوله
[21] چومجی- چینجی
[22] ناپویه- ناپوهه
[23] کته - پالان
[24] ورسه- ورسره.
[25] خی کول د اوښانو کیناستلو یا په گوندو کولو ته وېل کېږي.
[26] بوغبند – رخت خواب، د بړستنو او توشکو د تړلو څادر.
[27] ولې دلته د ریښې مانا لري. استاد حبیب الله رفیع وایي چې (ولي) په پښتو کې 33 ماناوې لري چې ځنې یې دا دي:
ولي- د ولایت خاوند، ستانه.
ولي- د نکاح پلار
ولي- د یتیم سرپرست.
ولی- (د سړي په وزن) اوږه- شانه
ولئ- (د کرتی په وزن) بوځي، لکه څاروي ولئ
ولي- وله، ریښه.
ولي- د پوښتني له پاره لکه ته ولي راغلې؟
ولي- ذوب کېدل لکه غوړي ولي کړئ!
ولي- (د ولي جمع) دواړه اوږې، هر دو شانه.
ولي- (د شاغلي په وزن) د زدن یا وهلو په مانا. لکه احمد محمود په کاڼو یا مچنوغزه ولي.
ولي- د وېشتلو په مانا لکه دوی دواړه ټوپك ولي.
[28] لندی- سپین سترگې اوبې شرم سړی ته ویل کېږي.
[29] وورکی – وړکي، تنکي هلکان- تنکي ځوانان.
[30] بې یکل- بې عقل.
[31] تیاره د چاغې او غوښورې په مانا.
[32] لری - شکمبه
[33] مخته- آموخته.
[34] دعوی
[35] تاوان. دا سندره مخصوصاً هغه وخت ویله کېږي چې پیغله کوم زاړه سړي ته واده کېږي.
[36] نرگتی: هغه جگه، نرۍ ښځه چې د خپلې بڼې له مخې نارینه ته ورته وي او مناسب ښځینه انداز و نه لري.
[37] اله چه- یو ډول ټوکر
[38] د ځای نوم مثلاً کابل، مشهد، هرات. د پوښ د خرابوالي پیغور په دې سندره کې انځور شوی دی.
[39] له هغه ځایه چې په وردگو کې د واده لگښتونه ډېر درانه دي. زومان اکثرا د خپلې ښځې د واده د لگښتونو د پیدا کولو په نیت نورو ملکونو ته ځي. په دې بدله کې د هغه ټوکر نوم یادېږي چې زومان یې له دې ملکونو څخه راوړي.
[40] بادوریه – د واورې زورور طوفان. په دې حالت کې باد واوره له هسکو او اوارو ځایو څخه پورته کوي او ټېټو ځایو ته یې وړي، لارې بندوي او په تگ راتگ کې ستونزې پېښوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

[41] د کډې جمع
[42] - پیرنگی- فرنگی- انگریز
[43] د کوچیانو بدلی:
خدای دي وه پلانیه په لار څرنگه راتلي
(پلانی) څې درسره وه، ته لا نه پې شرمېدې
*
خېښې څې ته راتلي لکه گل وځلېدې
څې جای د ریښتیا راغی لکه سپی وغپېدې
*
خېښې څې ته راتلي څره خوشاله وې
لستوڼي گډوې د اوړکو یاره وې
*
(پلانی) چې ته راتلي لکه زر وځلېدې
څې جای د رښتیا راغی، لکه خره وسونگېدې
*
(پلانی) څې ته راتلي- ته خو خدای وشرمولې
یو موټی زنغوزي سوي، دا (....) و شپېلولې
*
د (پلانی) دې څه بلا ده سر یې پك کونه خوسا ده
(پلانی) دغې (...) په کراسته، زه یې پاس په تندي ناسته
*
(پلانی) لا څه سړی ده، سر یې سپین خوله یې کوړی ده
دې موږ سپې یې ونه خوري، راته ښکاري سورلنډی ده
*
د (...) بلا په ما کې
له نامه کته یې د تا کې
*
څوك ده نوم یې زده کئ
په ځله کې یې وېده کئ (... خان) مې ورایله کئ
یا: په شپاله کې یې ویده کې ټول شپانه مې ورایله کې E
یا: په وټه کې یې ویده کئ لېربنو ته ورناره کئ
*
د موږ ناوې چې زاړي گرمه نه ده
(پلانی) یې له اتو بنو نه گنده ده
یا: (پلالی) له دروېزې راغلې نه ده
یا: (...) دې څه لیدلي نادیده ده
یا: (...) د ټولو خلکو مسخره ده
یا: (...) د نرو ښځو مسخره ده
یا: (...) د ولسونو مسخره ده
*
د موږ ناوې څې زاړي په وئ وئ باندې
وئ وئ یې د (...) په مرکندې باندې
*
ناوې سترگې مې سرې ډېر یې زړلي دي
بیگا یې چونگړیان په خوب لیدلي دي
یا: بېگا یې دروزیرگر په خوب لیدلي دي
یا: بېگا یې موسلیان په خوب لیدلي دي
*
مه زاړه ناوې زړا دې گرانه ده
له تا د (...) مرگی آسانه ده

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

*
ورا راغله پړي پړي
څوك شپانه څوك ژرنده ګړي
يا: څوك چونګښې څوك كربوړي(كوچيانۍ پانګه، ص 96)
د تنيو بدل:
مړۍ كمه كمه خورئ، مړۍ كمه كمه خورئ
د (...) جوسه مې كمه، غول به چېرته تلوي (تويوي).

نوربيا

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولـئ